## پنځه دېرشم پودکاست

### مخابرات

جنبش: جوړ پخیر، ستړي مه شئ، څنګه یاست؟ د همدې پوښتنو ځواب و چې انسانان یې د تماس وسایلو جوړولو ته اړ کړل. دغه وسایل په افغانستان کې مخابرات بولي او همدا، نن زموږ د نوبتي پودکاست موضوع ده له ولسمشر محمد اشرف غني سره. این برنامه نیز ادامه بحث زیربنا در افغانستان است. من داود جنبش استم. استاد محترم به برنامه دیگر خوش آمدید.

دوکتور غني: بسم الله الرحمن الرحیم، سلام و احترامات به جناب شما و تمام هموطنان و خاصتاً شنونده های عزیز این پودکاست ها در هر نقطه کشور و دنیا که تشریف داشته باشند.

جنبش: بسیار تشکر، استاده کله چې ما دغې خپرونې ته چمتووالی کاوه، ماته د ژورنالیزم د پوهنځي د لومړۍ ورځې هغه درس را یاد شو چې استاد راغی او وار د واره یې پوښتنه وکړه چې څه نوې زړې؟ چې ګپهاست؟ استاد غوښتل ووایي چې له نویو او زړو نه خبرېدل د انسان طبیعي غریزه ده او همدې غریزې ددې لپاره چې ارضا شي، انسان یې اړ کړ چې وسایل جوړ کړي او د دغو وسایلو په نتیجه کې ژورنالیزم راغی.

دکتور غني: لومړۍ وسیله معلومداره د انسانانو یو بل سره غږېدا وه، پس له هغه نه لیکل راغلل، پس له هغه نه چاپ راغی چې کتابونه خپاره شول، مګر نولسمې پېړۍ کې او بیا شلمې پېړۍ کې بنیادي توپیرونه راغلل، په دې معنی چې اشاره چې همېشه د انسانانو منځ کې وسیله وه، سِري کودونه وو چې خاص خبرونه او دا یې لېږل یا خاصې ژبې وې چې د دربار ژبې وې یا د تجارانو منځ کې ژبې وې. دا بدل شو په تلیګراف باندې، بیا غږ بدل شو

په ټیلیفون باندې چې د دې پر ځای چې دوه انسانان، اعم له دې نه چې فاصله یې څنګه ده، اوس په نړۍ کې یو بل سره غږیږي او بیا پس له هغه نه انځور راغی چې لومړی په ټلویزیون کې و او اوس په ټولو نورو وسایلو کې تاسې یو بل سره هم ګورئ او هم غږېدلای شئ. د دې لپاره چې د انسانانو منځ کې پیغامونه مبدل شي، تلیګراف وسیله یې شوله او دا مزیو باندې تړلي وو. بیا ټیلیفون راغی چې لومړی یې مزي په کار وو او بیا په یوویشتمه پېړۍ کې له مزیو نه ووت، بې سیمه شو او ټلویزیون همدغه رقم، په بنیادي توګه لومړی یو رقم ترتیبات یې درلودل او پس له هغه او انټرنېټ شبکې سره یو بنیادي تغییر راغی؛ نو هره مرحله د دې د نولسمې پېړۍ له منځ نه تر یوویشتمې پېړۍ پورې ارتباطاتو کې بدلون راغلی او اوس خاصتاً چټکتیا یې ډېره، ډېره شوې ده.

جنبش: په دغو ټولو به لږ لږ بیا تم شوو، بیا هم هغه خپل د ژورنالیزم لومړني درس ته ور ستنېږم چې پیغام استونه د انسان یو عادت و، مخامخ به یې چې ولیده، خو همدا پوښتنه به یې کوله: څه نوې زړې؟ څنګه یې؟ خو د دې لپاره چې دا پیغام ډېرو ته ورسېږي، مختلفې لارې یې پیدا کړې. مثلاً اور به یې بلاوه چې یوه خاصه معنی به یې درلوده، لوګی چې به پورته شو. یا زما په یاد دي موږ ورته «تواچیان» ویل، هغوی به په لارو کوڅو کې ګرځېدل او په لوړ غږ به یې اعلان کاوه چې څه شی دي سبا یا بله ورځ. یا ستاسې به هم استاده په یاد وي تر دا آخره پورې په کابل کې مخصوصاً د توپ ډز یوه معنی درلوده چې غرمه شوه او یا اختر شو یا روژه شوه، یعنې دغسې مختلفې لارې وې، مخکې له هغې نه چې ټیلیګراف او ټیلیفون ته را ورسېږو.

دکتور غني: هو بالکل. له کابل نه د مثال په توګه تر پکتیا او خوسته پورې ټولو غرونو باندې د اور لوګی یو لوی سیستم و او دا له اسلام نه مخکې موجود و او آثار د دې لا هم په دې غرو کې کتلی شئ او جارچیان هم ډېره لویه سابقه لري چې وتل او په جار یې اعلان کاوه او دا اعلانونه خاصتاً چې څه وخت اختر دی. پس له هغه نه چې توپ راغی د توپ

[ویشتل] و. مګر د دې په څنګ کې موږ نورې طریقې درلودې، یوې له دې ته به یې چاپار ویلې، خاصتاً د مُغلي امپراتورۍ په دوران کې خپل اوج ته رسېدلی و، مګر پخوا له هغه نه یې هم ډېره لویه سابقه درلوده، نورو امپراتوریانو کې؛ په دې معنی چې سپاره خاص برابر شوي وو له یو ځای د امپراتورۍ نه یا یوه ایالت نه یا یوه دولت نه بل ځای ته تلل او هرو شلو کیلومترو کې په اوسط پورې به دوی ته نور آسان آماده وو او دوی به آس بدلاوه چې ډېر مهم پیغامونه به یې [رسول]. مګر ټولو منځ د دې کې که وګورئ آوازه زښته ډېره وه، په دې معنی چې یو شی به چې یو چېرې پېښېده او د دې خبر به بل چېرې رسېده، میاشتې یې نیولې. د مثال په توګه وختې چې د هندوستان ولس په ۱۸۵۷ کې وخوځېده او د انګرېز واکدارۍ ته یې چیلنج ورکړ، ۵۷ ورځې یې ونیولې چې دا خبر د دې انګلستان ته ورسېږي. داخل د هندوستان کې د تلیګراف مزی راغلی و مګر ټول هندوستان کې نه و او لا انګلستان سره [وصل نه و]؛ نو په دغسې احوالو کې تصامیم بل رقم نیول کېدل او خاصتاً دیپلوماسي بل رقم وه. سفیرانو سره زښت ډېر صلاحیت و، همدا رقم که والیانو ته وګورئ یا عسکري جنرالانو او دې منځ کې، دوی د ډېر صلاحیت خاوند وو، ځکه چې زر معلومات نه رسېدل او دا ټول په دې وسایلو سره بدل شول.

جنبش: یوه خاطره به لنډه ووایم مخکې له دې نه چې بله پوښتنه وکړم، زما پلار خو افسر و په کمکي خیبر کې دا تورخم ته نژدې قطعه کې یې وظیفه درلوده، موږ کوچنیان وو، ورسره به وو، دوی په دا شاوخوا باندې شپږ پوستې درلودې سره د دې چې پوځ کې مخابره وه، اما دغو پوستو ته یې – یعنې امکان یې نه درلود چې هرې پوستې ته مخابره ورکړي، نو د شپې په ۹ بجو به طُرم غږېده او له هرې پوستې نه به څراغ راوته چې یعنې خیریت دی. کومې پوستې چې به څراغ را ونه ویست، معنی یې دا وه چې کومه پېښه شوې ده، یعنې دغسې رمزي نښې هم وې د عسکرو په منځ کې.

دکتور غني: د دې په څنګ کې هم...، څکه چې عبدالرحمن خان په افغانستان کې د جاسوسۍ یو ډېر سخت سیستم چې روسي امپراتورۍ کې رواج و، هغه یې ټولو ځایونو کې پلی کړ او مشرانو یې د دربار یا خوانینو یا دوی یې د دې اجازه نه درلوده چې خپل نوکران یا حاضرباشان یا دا له خپلو مجالسو نه وباسي، او اکثر سیاستمداران په رمز غږېدل. او د همدې لپاره هم ده چې سانسور دوامدار و، په لیکنو کې به ستاسې په یاد وي، ټول شیان مخکې له دې چې افغانستان کې خپاره شي، لومړی له سانسور نه تېرېدل. او که په یاد مو وي د مرحوم غبار په کتاب باندې چې بینوا صاحب وزیر د اطلاعاتو او کلتور و، د مرحوم میوندوال په دوران کې هغه اجازه د خپرېدو ورکړله، مګر حکومت چې بدل شو دا یې بند کړ. او پس له هغه نه به پوهنتون کې او لیسو کې ځوانانو دا په لاسونو کاپي کاوه او کاپي ګانې به یې ورکولې یو بل ته.

جنبش: پس این جریان بسیار بطی تبادله اطلاعات بین انسانها و بین جوامع بالآخره با ایجاد تلیگراف به شکل انقلابی و بنیادی تغییر کرد.

دکتور غنی: عمده ترین تاثیر آن از نگاه نظامی در دوران جنگ داخلی امریکا بود، چون بار اول بود که رئیس جمهور امریکا لنکن مستقیماً با تمام قوماندان های عسکری خود در ارتباط بود و جنگ را مدیریت کرد. و در عین حال وقتیکه تار تلیگراف شرق و غرب امریکا را با هم وصل کرد، والی وقت کالیفورنیا اعلان کرد که حالی وحدت امریکا تأمین شد. باز هم اگر اشاره از لنکن کنیم، اعتماد این را نداشت که دوره دوم انتخابات را خواهد برد، اما در همان روز برایش اطلاع رسید از طرف جنرال عمده اش که شهر اتلانتا را فتح کرده و شهر را سوختانده و این موجب آن شد که حکومتی که در جنوب امریکا اعلان شده بود به ختم برسد و جنگ داخلی بالآخره بعد از چند ماه به پایان برسد. و هم از نگاه تجارت ماه ها میگرفت که بفهمید که یک قطاری را که روان کردید یعنی مقصد من از – در آن وقت خط آهن هنوز نیست، قبل از خط آهن است که، موادی را که روان کردید یا معاملاتی که

باید صورت بگیرد یا انتقال پول را، ماه ها وقت کار داشت و حالی به ساعتها رسید. اما معلومدار، نکته ییرا که در نظر بگیریم ۱۰ کلمه در اول در تلیگراف بود، و از این جهت رمزی را که شما گفتید کلمه مورس که عام به تمام لهجه ها بدل شد نام یک پروفیسور بود که اولین بار بین شهر واشنگتن دی سی پایتخت امریکا و شهر بالتیمور که نزدیکش است، بار اول او تلگراف را عملي ثابت کرد، اما اکثریت سنای امریکا مطلق بی باور بودند می گفتند این چی فایده دارد؟ به مرور زمان دیدید که در ظرف ۱۰ سال –این در ۱۸۴۴ بود، در ۱۸۵۴ هزارها میل [خط] به وجود آمده بود، و بعد از آن در کُل دنیا هم روی زمین و هم زیر زمین تار تلگراف به وجود آمد، یعنی یک انقلاب عظیم بود، اما فراموش نکنید که تعداد مردمی که به آن دسترسی داشتند، کم بود. تنها به مرور زمان بود که وسعت پیدا کرد و سرمایه گذاری بزرگ هم از طرف سرمایه گذاری خصوصی را خواست و هم خاصتاً از طرف دولتها.

جنبش: و به شنونده های جوان مخصوصاً یادآوری کنیم که تلیگراف هر کلمه اش باید قیمت پرداخته میشد در بدلش و قیمت بود، هر کس توانایی فرستادن تلیگراف، تلیگرام را نداشتند از همین خاطر بود که تاثیرش بر ژورنالیزم این بود که خبرنگار باوجود اینکه وسیله سریع را بدست آورد، اما بخاطر اینکه قیمت را پایین نگه کند و همچنان پیش از اینکه رابطه قطع شود پیامش برسد، سیستم هرم معکوس را ایجاد کرد، یعنی مهمترین گپ را باید در آغاز میگفت و بعد از آن، اگر وقت میبود و پول میبود سایر مطالب را مخابره میکرد.

دکتور غنی: از همین جهت است که نوع انتقال خبرها شکل خاص را به خود گرفت و یک زبان خاصی که شما استادش استید و معلومدار متخصصش استید، به وجود آمد که بیسار پُرگویی مابینش نباشد به صورت اختصار باید خبر انتقال داده شود و بعد از آن، کسانی را که خبر را گرفتند سرش تبصره میکنند.

جنبش: کوتاه در این مورد هم بگویید که تا چی وقت نقش مهم داشت؟ چون به یادم است مهمترین خبرهای رسمی ما در افغانستان در زمان های مختلف این بود که به مناسبت فلان چیز تلیگرام تبریکیه مخابره شده است یا طیاره فلان رئیس دولت از فراز کشور میگذشت به رئیس دولت ما پیام فرستاده، در این موارد از تلگراف استفاده میشد حتماً، تا چه وقت این یک وسیله بسیار مهم ماند؟

دکتور غنی: به صورت اساسی تا دهه ۱۹۶۰ است، بعد از آن چون تلیفون هم وسیعتر میشود و هم می آید، اما حتی تا سالهای ۱۹۸۰ هم تلیگراف فرستاده میشد، تنها در ختم دهه ۱۹۸۰ است که تلیگراف به صورت اساسی قطع میشود و دیگر ضرورت به آن باقی نمی ماند. و از نگاه ساختاری تلیگراف جز سیستم پُسته بود، پُست و تلیگراف و تیلیفون آنرا میگفتند که باز نام مخابرات سرش گذاشته شد.

جنبش: ټیلیفون، اشاره راغله چې دا هم ایجاد شو په همدغه لړ کې اما لسیزې یې ونیولې چې له ټلیگراف نه وروسته بیا ټیلیفون راشي، دې څه تاثیر وکړ په ټولنو باندې؟

دکتور غنی: لومړی وگورئ که یو دفتر نه بل دفتر ته ځئ، څومره وخت نیسي؟ او عین عمارت کې که له یوه منزل نه بل منزل ته ځئ، څومره وخت نیسي؟ په [داسې] حال کې چې وختې چې ټیلیفون جگوئ ډېر زر یو بل سره غږېدای شئ. او غیر له هغه نه، یو ولایت نه بل ولایت ته د یوه مملکت وگورئ او بیا خاصتاً له یوه مملکت نه بل مملکت وگورئ. که د یو ملک سفیر په لرې یو بل ملک کې پروت دی او لیک لېږي، لیک څومره وخت نیسي تر څو [هلته رسېږي]. هلته یې کوریر ویلې که کوریریان تلل د باندنیو چارو د وزارت له خوا، روسیې ته یا نورو ځایونو ته او دوی به خاصې پُستې وړلې چې دا شفر یې درلوده او دا، دغه ټول وسیله ټیلیفون وگرځوله. غیر له هغه نه که انسانانو ته گورئ، یو لوی ښار کې لکه کابل غوندې یا هرات غوندې یا مزار کې یا قندهار کې یا بل ځای کې، که د دې ښار

نه یو ځوان خپل ولایت نه د باندې دی، کورنۍ یې په دې شک کې ده چې روغ دی که روغ نه دی، باید یو سړی تللی وای چې د ده پوښتنه وکړي، خاصتاً که دی پخواني دوران کې په اردو کې وای، یا مزدورکاري یې کوله یا حکومت کې یې کار درلوده، کابل یا دا کې. په [داسې] حال کې وختې چې ټیلیفون وي احوال ځومره زر اخیستی شئ. زه لومړی په شپاړس کلنۍ کې لاړم امریکې ته په دولتي سکالرشپ باندې او پس له هغه نه پنځه کاله بیروت کې وم، زما په یاد نه دي چې په هغو شپږو کالو کې ما کابل ته ټیلیفون کړی وي، ځکه ډېر گران و، اما ممکن و. که خدای ناکرده کومه پېښه شوې وای، امکان د دې و چې ټیلیفون کې سړی خبر واخلي، مگر ډېر گران و او پس له هغه نه اوس گورئ چې دا دومره آسانتیا په کې راغلې او دومره ارزان شوی دی په ټیلیفون کې، واقعیت کې اکثریت ډېره آسانه ده چې په گړیو، په ساعتونو باندې له افغانستان نه نړۍ سره وغږېږئ، تر دې چې داخل د افغانستان کې وغږېږئ او قیمت وي. نو دغه آسانتیاوې چې راغلې دي، دا ټولې موجب د دې کېږي چې د خلکو راشه درشه، له یو بل نه احوال اخیستل، سره له دې چې فزیکي فاصله به ډېره وي، د دوو ملگرو منځ کې یا د کورنۍ د غړو منځ کې، له یو بل نه په ورځني توگه دوی کولای شي چې خبر واخلي. اما دا رقم آسانتیاوې ډېرتر په ختم د شلمې پېړۍ کې او د یوویشتمې پېړۍ کې دي. مخکې له هغې نه سره د دې چې وسایل وو، لاسرسی ورته گران و.

جنبش: بیا به هم د خپل مسلک په حساب یادونه وکړم چې د ټیلیفون په راتگ سره هغه څه چې موږ ورته بېړنی خبر وایوو دود شو، ځکه چې خبریال کولای شوو د پېښې له ځای نه مخامخ په ټیلیفون باندې ریپورټ ورکړي. زموږ اورېدونکو ته به په زړه پورې وي چې د ۱۹۱۱ کال په دسمبر کې د سراج الاخبار په پنځمه گڼه کې لومړنی ټیلیفوني خبر نشر شوی دی، زه به یې دلته لنډ ولولم، چې زموږ یوازینۍ ورځپاڼه وه، وایي:

«ټیلیفوني خبر جلال آباد د سر څارونکي له خوا، کابل مدیر او سر محرر ته؛

لوړ اعلیحضرت او لوړو پرتموالو شهزادگانو او د حضور یو شمېر ځانګړو کارکوونکو د یکشنبې په ورځ د لیندۍ ۱۳مه د شپږو موټرو په سپرلۍ د هماغې ورځې په اوږدو کې جلال آباد ته تشریف راوړ. په کابل کې موټر ته د ختلو ساعت د ګهیځ ۷:۲۴ دقیقې، پر لاره دمه ۶ دقیقې، ټوله لاره ۶ ساعته او ۵۶ دقیقې؛ یعنې د ورځې تر نیمایي وروسته په ۲ بجو او ۲۶ دقیقو د جلال آباد شاهي باغ ته ورسېدل.»

دا خبر ورته د لیندۍ په ۱۳مه مخابره شوی او ګڼه بیا په سبا یې د لیندۍ په ۱۴مه خپره شوې ده، یعنې دغومره زموږ په کار کې، سره د دې چې موږ ډېر وروسته پاتې هم وو، چټکتیا راغله.

دکتور غني: څکه چې تاسې ذکر وکړ، هره ګڼه د سراج الاخبار کې باندیني خبرونه هم دي چې مصر نه یا امپراتوري عثماني نه یا هندوستان نه او خاصتاً اسلامي نړۍ نه، لیبیا نه، دې نه [راتلل]؛ نو واقعاً ټیلیفون په دې کې لوی بدلون راوړ. او دا خبر چې تاسې ورکړ، معلومدار تاسې استاد یئ او دا برخه مو ژباړلې په پښتو باندې، بیا هم محمود طرزي لیکي چې دې وخت کې د امیر حبیب الله خان په دوران کې جلال آباد، لغمان، جبل السراج او پغمان ټول ارګ د کابل سره وتړل شول او داخل د ملک کې هم ټولې دولتي ادارې ارګ سره د ټیلیفون په وسیله وصل شوې.

جنبش: شما یک اشاره کوتاه به لین ها یا سیم های تلیگراف داشتید یعنی که تلیگراف و تیلیفون در آغاز هر دو از سیم استفاده میکردند. زیرساخت ها و زیربناهای این دو وسیله به عنوان نخستین وسایل مدرن مخابراتی با هم چی شباهت ها و چی تفاوت هایی داشت؟

دکتور غنی: ساخت لین های تلیگراف به سرعت بسیار خاص به وجود آمد، چون نسبتاً آسانتر از انتقال لین های تلیفون بود؛ و دوم، مشابهت اینست که لین های تلیگراف اساس مسیرهای لین های تیلیفون را هم گذاشت. در هر دوی این نقش دولت ها مهم بود و اساسش

در اکثر کشورها سیاستی بود که دولت ها برای ایجاد شبکه های خط آهن گرفته بودند. به این معنی که امتیازات خاص در قسمت زمین و در قسمت تقویه و همچنین در ایجاد شرکت های خصوصی و همچنین نهادهای دولتی به وجود آوردند و سرمایه گذاری بخش دیگر آن بود. نکته بعدی اش اینست که هردوی آن در قسمت کیبل های بسیار بزرگ تحت بحر با هم یکجا میشوند. که این کیبل های تحت بحر هنوز هم برای شبکه های عصری ییکه ما امروز قرار داریم و شبکه های انترنتی، تمامش با این کیبل های زیر بحر ارتباط دارد و در قرن بیست و یک پس میآییم به این که شبکه های فایبر نوری یک جز اساسی آن میشود و مقدار سرمایه گذاری ییکه در این صورت گرفت به پول امروزه به صدها میلیارد دالر میرسد.

جنبش: په دې لړ کې يو بل شی، يوه بله وسيله «ټلکس» نومېږي، زه خپله هم کله چې مسکو کې وم د تحصيل له خلاصولو نه وروسته په ۱۹۹۳ کال کې له دې سره بلد شوم او هغه دفتر کې مې چې کار کاوه، د هماغه ځای نه مې د هغه دفتر مقر ته چې په بل هيواد کې و خبرونه استول. يعنې يو نفر دا کار کاوه، ضرورت نه و چې زه تللی وای، متن مې ليکلی وای، ټلگرافچي ته مې ورکړی وای، هغوی استولی وای. ما پخپله دلته لکه د ټايپ ماشين گوتې پرې وهلې او هلته د دوی په مرکز کې هماغه متن چې ما ليکه دوی ترلاسه کاوه، د دې لپاره چې اورېدونکو ته يې ور وپېژنو، د ټېلکس، ټېلگراف او ټيليفون گډوالی او بېلوالی په کوم ځای کې دی؟

دکتور غني: خاصيت د ټېلکس دا و چې تاسې کولای شول چې ټول شی ټايپ کړئ مورس کوډ باندې تړلی نه و، سره د دې چې قيمتونه يې جگ وو، اما بيا مجبور نه وئ چې پوسته خانې ته لاړ شئ، دا يې يوه خاصه ممايزه وه. او دويم دا و چې د خصوصي مناسباتو منځ کې له سانسور نه، نه تېرېدل، ځکه که تليگراف ته وگورئ، ټول تليگراف به له تليگرافچي نه تېرېده او لومړی برخه کې تر څو چې بين المللي قوانين منځ ته راغلل، هر ملک خپل خاص اسرار درلودل او خاص رموز يې درلودل. ټېلکس وسيله د دې وه چې يوه دفتر نه بل

دفتر ته چې لرې ځای کې به هم وئ، ډېر زر یو بل سره غږېدلای شوئ او بېرته به مو ځواب اخیسته، ځکه که ټېلېگراف مو لېږه، باید ټېلېگراف مو لیکلی وای، ټېلېگراف مو وړی وای دولتي ټېلېگراف خانې ته، خصوصي شرکتونو ته او له هغه ځای نه به مو لېږه، بیا به مو بېرته دې ته صبر کاوه چې له هغه خوا نه ځواب راشي. شاید ۲۴ ساعته به یې نیول یا ۱۰ ساعته یې نیول یا ۲ ورځې یې نیولې. ټېلکس کې یعنې په دوامداره توگه یو بل سره غږېدئ، ځکه چې ټېلکس مو چې له دې خوا نه لېږه، له هغه خوا نه به یې ځواب راته، ځکه چې هره دقیقه ډېره گرانه ده او د تصامیمو له نظر نه ډېر بااهمیته دی په تجارتي موادو کې او قیمتو او دې کې، ډېر زر نتیجې ته رسېدلای شوئ.

جنبش: گمان اغلب اینست که نخستین بار روزنامه امریکایی Newark Advocate پیشبینی کرد در ۱۱ اپریل ۱۹۵۳ که زمانی خواهد رسید که مردم، افراد، تلیفون های کوچک داشته باشند و در جیب خود انتقال بدهند، البته در آن وقت مردم باور نمی کردند ولی امروز این به یک واقعیت تبدیل شده. به نظر شما تعمیم تکنالوژی مخابراتی موبایل در جامعه و بین افراد، به این سرعت و به این وسعت چی تاثیری بر جامعه انسانی گذاشت؟

دکتور غنی: کلمه انقلاب بعض اوقات به صورت غلو ازش استفاده میشود، اما ایجاد بیسیم واقعاً یک انقلاب به وجود آورد، چون نکته اولش اینست که تیلیفون را عام ساخت. امروز چند میلیارد انسان دسترسی به تیلیفون بیسیم دارد. معلومدار هنوز هم بین کشورهایی که دارای بیسیم استند و آنهاییکه فاقد بیسیم استند یک فاصله است و این فاصله بدبختانه عمیق تر میشود، اما نوع ارتباط را به صورت بنیادی تغییر داد. یکی از مثالهای این که در تمام کتابها ذکر میشود مسئله ماهی گیرها در هندوستان است. اینها در ساحل همیشه نمی دانستند که ماهی را که از اقیانوس گرفته اند به کدام قیمت بفروشند، چون بازارهای مختلف میبود. وقتیکه بیسیم بدست اینها رسید، اینها فوراً می دانستند که قیمت کجاست و زندگی شان به صورت اساسی تغییر کرد. از این جهت، این تنها یک مثال است. اهمیت این را در این دیده

می توانید که مردم به صورت عموم خانواده ها، جوان ها، خانم ها، اقشار مختلف جامعه تأکید سر این داشتند که بیسیم را خریداری کنند و قیمت آنرا در بودجه ماهانه خود ترجیح بدهند. وقتیکه یک خانواده بودیجه محدود خانواده گی داشته باشد چطور میتواند دو یا سه تیلیفون را در عین زمان تأمین کند. اما اهمیت گرفتن معلومات دقیق و سریع از یک دیگر موجب این شد که اینها بودجه خود را عیار کنند و بر اساس آن ترجیح بدهند که دارای تیلیفون باشند. یعنی واقعاً یک تغییر بنیادی در نوع ارتباطات انسانها با همدیگر به وجود آمد.

جنبش: د دغومره پراخو مخابرو او وسایلو او امکاناتو د تنظیم لپاره قوانینو ته اړتیا وه په نړۍ کې او موږ یې لرو اوس، دنیا د دغې برخې د تنظیم قوانین لري چې ټول هیوادونه، هغه چې غړي یې دي باید تطبیق یې کړي. دا له کله نه پیل شو او دا قوانین څوک وضع کوي او څوک یې څاري؟

دکتور غنی: پیل د دې له ۱۸٦۵ نه دی. شل اروپایي هیوادونه ۳ میاشتې په یوه هر اړخیز بحث کې وو، بالآخره په اصولو باندې نتیجې ته ورسېدل او لومړۍ د تیلیگراف اتحادیه یې جوړه کړله چې د دوی منځ کې اصول یې کېښودل. پس له دې نه چې ټیلیفون منځ ته راغی په ۱۸۷٦ کې، بیا په ۱۸۸۵ کې دوی ټیلیفون او تېلېگراف سره یو ځای کړل؛ او بیا په ۱۹۲۰ کې چې راډیو راغلله...- راډیو باندې ونه غږېدو- مگر راډیو هم معلومدار د دې برخه وه او خاصتاً اهمیت یې درلود، دا ټول سره یو ځای شول. بیا لومړۍ بین المللي اتحادیه چې مخکې د ملگرو ملتونو نه وه، ۱۹۳۲ کې د هغه په چوکاټ کې راغله او ۱۹۴۷ کې په نامه د TIU یا بین المللي اتحادیه د مخابراتو باندې د ملگرو ملتونو یوه موسسه شوله او تراوسه هم د ملگرو ملتونو د یوې موسسې حیثیت لري. دلته دوه برخې دي: یو دا ده چې د قوانینو وضع کول د ملي حاکمیت برخه وه. دویم دا چې بین المللي اصول څنگه ایښودل کېدل او دې کې غړي وو، پس له هغه نه چې د مستقلو ممالکو تعداد ډېر شو، په همدې اندازه د دې

غږي ډېرتر شول تر څو چې د ملګرو ملتونو د غړو اندازې ته ورسېدل. هلته موافقې دي؛ اما بله برخه د دې دا ده چې خاصتاً پس له انټرنټ او د دې لويو اجتماعي شبکو له لارې نه، ګوګل و فيسبوک او دې نورو نه، اصول په ډېره چټکۍ شعاع لاندې راغلي دي. اوس د يوه ابهام مرحله ده، څکه څنګه ګوګل، يا فېسبوک يا دا نورې چينايي کمپنۍ ټيک ټاک و دا کنترول لاندې راوړئ، يوه لويه بين المللی معضله ده. اروپا دې برخه کې يو رقم موقف لري او امريکا بل موقف لري، څکه امريکې کې قانون دې کمپنيو ته مصئونيت ورکړی چې هغه مواد چې دوی خپروي، دوی د دې مسوول نه دي، اما د دې نتيجه دا ده چې دروغ، نه يوازې دروغ بلکې واقعي تخريبي خبرونه ډېر زر خپرېږي او نتايج لري لکه چې انګلستان کې مو وليدل. اروپا کې بل رقم بنياد دی او چين خپل خاص مقررات لري، نو موږ له بين المللي نظر نه د ابهام په يوې مرحلې کې يوو او يوه مهمه خبره دا ده چې آيا په اوسنيو شرايطو کې دا عظيمه ټکنالوجي، معلوماتي ټکنالوجي کې چې دا تغييرات راغلي دي، دا به بيا د قانون په چوکاټ کې راشي او يا به دا چې د بحران او د عدم د اعتماد فضا ډېرتره کړي.

جنبش: بخاطر اينکه حق راديو و تلويزيون هم ادا شود، يک کمی مکث کنيم در اينجا که در اين سلسله نخست راديو به وجود آمد و بعداً تلويزيون ايجاد شد که فکر ميشد که با ايجاد تلويزيون روزنامه و مجله و مطبوعات چاپی از بين ميرود که نشد، يعنی هر وسيله ييکه ايجاد شد، به تعقيبش يک وسيله ديگری که آمد بازار آن را نه تنها از بين نبرد بلکه هر کدامش خود را با شرايط جديد عيار ساخت.

دکتور غنی: راديو وسيله ارتباط سرتاسری را برابر کرد. راديو خاصتاً تاثيرات سياسی فوق العاده داشت، چون ارتباطات دولتها با مردم شان پيام دهی به آنها و خبردهی به آنها از راه راديو يک حيثيت عمده داشت. دو مثال متفاوت آن، يکی رئيس جمهور روزولت که تنها رئيس جمهور امريکاست که چهار بار انتخاب شده بود، استعمال راديو از طرف او بود و يک پروگرام خاص راديويی داشت به نام «صحبت در پهلوی بخاری» و شخص ديگر

مخالف او به ترتیب بالعکس در اروپا هتلر بود که نطق های او از راه رادیو پخش میشد و در آن دوره نازیزم و فاشیزم و نوع استفاده از رادیو، دو بدیل عمده اش را در این دیده میتواند و در انگلستان خاصتاً نطق های چرچل را در انسجام مردم انگلستان به حیث یک وسیله دیگر دیده میتوانید.

جنبش: او بي بي سي هم د امپراتورۍ د یوې وسیلې په توګه په لومړي ځل رامنځته شوه او نوم يې هم همدا و چې د امپراتورۍ بهرنی سرویس، دا ورلډ سرویس چې ورته وايي.

دکتور غنی: بالکل او بي بي سي دومره اهمیت پیدا کړی و، زه يو مثال درکړم، زه بیروت کې وم چې د ۱۹۷۳ عربانو لومړی وار د اسرائیلو په مقابل کې په لومړۍ مرحله کې مصر و سوریه بریالي شول، دا يې لومړی وار و چې نسبي بریالي شوي وو، دا خبر به ټولو بي بي سي کې اورېده، مګر په څنګ د دې کې زه استاد سره مې کېناستلی وم او راته يې وویل: پوهېږې د بي بي سي اهمیت څومره دی د ښار منځ کې؟ ما ويل نه استاد! ويل يې: پرون يو ټکان راغی ښار کې، زلزله غونډې وه، نو وايي زما ملګري ټوپ وکړ چې دا بي بي سي ولګوئ چې دا زلزله ده که نه ده؟

جنبش: د فکرونو دا انحصار په افغانستان کې هم و، ځکه چې نور وسایل نه وو، خلکو به ویل وګورئ چې بي بي سي په دې اړه څه وايي.

دکتور غني: بالکل، ماته خاصتاً معلومدار [روښانه] ده، ځکه چې تاسې ما سره مصاحبې کړې دي چې زما غږ افغانانو پېژانده ځکه چې زه بي بي سي کې غږېدم، څوارلس کاله یا پنځلس کاله به تاسې ما سره مرکې کولې او له هغه نظر نه زما غږ سره وطنوال آشنا و.

جنبش: د راډیو یو منفي اړخ هم په افغانستان کې لنډ پرې راشوو چې دا زموږ هیواد د شلمې پېړۍ په دویمې نیمایي کې چې کودتاګانې راغلې ډېر پام يې په راډیو او مخابراتو باندې و، هر چا به چې د راډیو او مخابراتو مرکز ونیوه، کودتا د هغه بریالۍ بلل کېدله.

دکتور غني: یوازې افغانستان کې نه وو. د افغانستان کودتا کې خو پوهېږئ چې یو کتاب لیکل شوی و، نوم یې «کودتا» و او داود خان دا کتاب غوښتی و، نو دا کتابي کودتا وه. بالکل د دې کتاب طریقه یې [تطبیق کړه]، اما بدترین تاثیر د راډیو په رواندا کې و، ځکه رادیو وسیله د دې شوله چې د رواندا خلک یو بل ووژني او دې خلکو ته چې وګورئ هوتي او توتسي یو بل نه قطعاً توپیر نه لري، اما د بلجیم حکومت د دوی منځ کې توپیر راوړ او ویل یې تاسې مختلفې قبیلې یئ، یو بل سره [ یې واچول ] دا نو هماغه تقسیم و، [تقسیم وکړه او حکومت وکړه]، او راډیو نه ځیني منفور شخصیتونه ووتل، دلته یو قتل عام راغی او د دې وسیله همدا راډیو وه. نو ضروره ده چې ټول ولسونه او خاصتاً زموږ ولس پوه شي په دې باندې چې هر معلومات ثقه نه دي، هرې خبرې کې واقعیت نشته او اوس خاصتاً په دې دوران کې زښت ډېر پام په کار دی، مخکې له دې نه چې څوک باور وکړي چې واقعیتونه څه دي.

جنبش: بلی و جهان مخابرات به سرعت، به سرعت بسیار سرسام آور در تغییر است، وسایل جدید و جدیدتری هر روز ایجاد میشود، اصلاحاتی در آن می آید و انترنت از کجا به کجا رسید و شاید سرانجام به کجا برسد. وقتیکه برودبند برای نخستین بار معرفی شد، با خدمات انترنت سریع، از آنجا شروع کنیم، چی تاثیری بر جامعه بشری گذاشت؟

دکتور غنی: ما در یک عصر زندگی میکنیم که تنها شباهتش به دو دهه آخر قرن کشتی ها، تلیفون، تلیگراف، رادیو، غیره وغیره همه اینها به وجود آمد و مناسبات بشری به شدت در تغییر بود. سرعتی که امروز در تکنالوژی به وجود آمده سرعت آن چهار دهه را ضرب هزار یا ده هزار یا بیست هزار کنید. تمام ابعاد زندگی بشری به یک صورت فوق العاده در تغییر است و از این جهت تمام انسان ها گیج استند. در دنیا یک ابهام بزرگ راجع به آینده است و خاصتاً راجع به ۱۰ سال آینده، چون در این ۱۰ سال همه چیز از نگاه مناسبات اقتصادی، اجتماعی، سیاسی وغیره یک تغییر بسیار سریع را تجربه خواهد کردند، و آن کشورهایی که

به اجماع میرسند به جهت اینکه خود را چطور عیار کنند، و به چی ترتیب از این تغییرات و تحولات استفاده مثبت کنند، به پیش خواهد رفتند و آنهایی که خود را عیار نمی کند بدبختانه به عقب خواهد ماندندنوزده و شروع قرن بیست است که همه چیز در سرعت در تغییر بود؛ خط آهن، ، و نتایج منفی و مثبت این تغییرات و ابعاد مختلف اینها واضح نیست، دقت نهایت زیاد به کار دارد.

جنبش: او دا چې وايي مخابراتو دغه نوې ټکنالوجۍ، نړۍ په يوه کلي اړولې، دا ښه کار شوی که نه دی؟

دکتور غني: ښه کار او بد کار نه اوس وځو، اوس خبره په دې کې ده چې آيا بشري ټولنه د بشري ټولنې په حيث باندې ته چمتو ده چې يو بل سره په منطق وغږيږي او پوه شي چې يو بدلون دی چې هېڅوک يوازې نه پرېږدي. له بدې مرغې نه دا بدلون په ټکنالوجۍ کې په داسې ماحول کې پېښ شوی، چې نړۍ کې د قوت مراکز په ډېرېدو کې دي او قوانين ددې، اصول د دې چې څنګه يو بل سره راشه درشه وکړي، په ماتېدو کې دي. هغه نظم چې پس له دويمې نړيوالې جګړې نه راغی، هغه نظم کې امريکا اصلي قوت و او پس له هغه نه چې دوی اتومي بم په جاپان باندې واچاوه، يوازينی اتومي قدرت و، پس له هغه نه شوروي اتحاد دويم قوت باندې راغی او سوړ جنګ کې نړۍ دوه قطبه شوله. پس د شوروي له اضمحلال نه نړۍ کې يو قوت و، پس له دې نه چې امريکا په عراق باندې يرغل وکړ او دا... هغه مرحله تېره شوې، نن نړۍ کې مختلف قوتونه دي او دا څوک بېرته په يو قوت باندې نه شي بدلولای، يا دوه قطبو باندې. اما دا چې تګلاره څه وي او په اصولو باندې څنګه نتيجې ته ورسيږي چې ټول يو بل سره وغږيږي، هغه باندې نه دي. بله برخه دا ده چې چاپېريال ثابت نه دی، نن تاسې کوم ځای د نړۍ کې په دې باندې ډاډ ورکولای شئ چې سبا به هوا څه وي يا به کوم موسم کې تغيير وي يا چېرې به سيل راشي يا چېرې به وچکالي وي. چاپېريال په يو ډېر سخت بدلون کې دی، له بلې خوا نه ټکنالوجي چې راغلې ده، له

بدې مرغې نه دا ټکنالوجي به زښت ډېر خلک بېکاره کړي. میلیونها نفره چې د شلمې پېړۍ په ټکنالوجۍ باندې بلد شوي وو او کارونه یې زده کړي وو، هغه کارونه به ځای یې ماشینونه ونیسي. دې خلکو ته به سړی څنګه ډوډۍ ورکوي؟ دوی ته به څنګه خاصتاً د عزت کار پیدا کوي؟ دغه ټول سوالونه دي چې اوس بې ځوابه دي. ابهام ځکه دی چې پوښتنې واضح دي، ځوابونه یې لا واضح نه دي. نن بېرته جګړه ګورئ، روسیه او اوکراین ته ګوره یا د اسرائیلو اعمالو ته ګورئ. هغه څه بشري ارزښتونو باندې چې پخوا غبرېدئ، کومه ورځ نه ده چې پښو لاندې نه کېږي. او د اعتماد فضا ماته شوې ده، د بین المللي اعتماد فضا نشته، د بې اعتمادۍ فضا ده، هېڅوک په هیچا باندې اعتماد نه لري، اما غیر له دې نه چې په دې راتلونکې لسیزې کې بېرته اصولو باندې نتیجې ته ورسېږو، ابعاد به یې شاید منفي تر وي تر مثبت ترو نه، اما هیله من یم چې یوې تګلارې باندې او اصولو باندې زر نتیجې ته ورسېږو چې یوه نړۍ ده، داسې نه شئ کولای چې هر څوک وwایي چې «میم زر ما ټوله زما!» د هغې امکانات نشته. که هغې نتیجې ته په عقلاني صورت وګورئ نړۍ به یوې خوا ته لاړه شي اما په دې مرحله کې هېڅوک نه شي ویلای چې کوم جهت ته به لاړ شوو مثبت جهت ته به لاړ شوو که منفي جهت ته. اما هغه شی چې واضح دی، ټکنالوجي په ډېر قوت باندې په بدلون کې ده او د دې مدیریت په اوسنۍ حکومتدارۍ کې ډېر ستونزمن دی.

جنبش: اگر به صورت کُل تکنالوژی کهنه مخابراتی را با تکنالوجی جدید مخابراتی مقایسه کنیم، از نظر زیرساخت ها و زیربناها تا چه حدی با هم شباهت و مغایرت دارد؟

دکتور غنی: شباهت در اینست که شبکه های بزرگ تیلیفون خاصتاً در روی زمین و تحت بحر، اینها وسیعتر شده. سرعت ضرورت این را دارد که این کیبل ها به صورت دوامدار با هم ارتباط پیدا کنند. شبکه های مختلف هنوز وجود دارد و هر کشوری که بتواند طور مثال یک دقیقه در مراودات بین المللی کاهش بیاورد میتواند موجب کمایی صدها میلیون دالر یا میلیاردها دالر برای شبکه عمومی شود. از این جهت، نوع سرمایه گذاری ییکه در این

صورت می گیرد، امروز به میلیارد نیست به تریلیون است، و کم از کم پیش بینی اینست که در ده سال آینده این شبکه های زیربنایی ضرورت به ۳۰ تا ۷۰ تریلیون [دالر] سرمایه گذاری کار دارد. یک قسمت زیادترین این سرمایه گذاری در آسیا صورت می گیرد، و تغییر عمده ییکه به مقایسه گذشته است، امریکای شمالی در نتیجه سرمایه گذاری ییکه سر زیرساختها شد به بزرگترین قوت اقتصادی دنیا بدل شد. در شروع این تغییرات امریکا هنوز از نگاه اقتصادی یک کشور نبود، نقاط مختلف بود و ایالات مختلف بود و بعد از آن جنگ داخلی و اینها را تجربه کرد. امروز آسیا متحرک ترین براعظم دنیا است. و از این جهت است که امریکا تمرکز خاصش سر این بود که چطور از شرق میانه یا آسیای جنوب غربی بر آید و تمرکز سر اقیانوس پاسفیک داشته باشد و اروپا خود را چطور دوباره عیار کند. نکته دیگر در اینست که بزرگترین سرمایه گذار زیربنا امروز چین است و آسیای شرقی است که از نگاه مواصلات کوریای جنوبی در صدر قرار دارد، در بین کشورهای پیشرفته. نوع ارتباط شبکه چین با اروپا از یک طرف است، با آسیای جنوبی یک طرف است و در این ما یک نقشی برای افغانستان می دیدیم و به صورت اساسی به این فکر کنیم که چطور به حیث نقطه اتصال باشیم، مثل که سر خط آهن صحبت کردیم. فرق در اینست که حالا، در شرایط فعلی تمرکز تنها سر زیرساخت نیست، سر زیرساخت های سبز است. باید نوع زیرساختی را که به وجود می آورید، با تغییرات اقلیم هماهنگ باشد، با تغییرات محیط زیست، چون غیر از آن زیربنا یکی از عوامل عمده گرم شدن اقلیم است. و این باز موضوع معادن را مطرح میکند، خاصتاً مس و آهن و کوبالت وغیره را. که این دوباره منابع کشورهایی که در حال انکشاف استند در معرض خطر و چور قرار میدهد. نکته دیگرش: کی سر کی جاسوسی میکند در ارتباطاتش و در اینجا هم یک مجادله سرتاسری بین قوت های بزرگ وجود دارد که بتوانند یا شبکه های خاص خود را ایجاد کنند، چون وقتیکه تعزیرات اقتصادی گذاشته میشود، زیادترین تعزیرات اقتصادی توسط همین، باز هم تکنالوژی

معلوماتی صورت میگیرد، که کی با کی معامله کرده، به چی ترتیب. و سیستم SWIFT را حتماً نامش را شنیدید، که انتقالات بانکی از راه آن صورت میگیرد. وقتیکه امریکا سر یک کشور تعزیر می آورد، نکته کلیدی اش از راه همین انتقالات بانکی است. چون کمپنی ها را اخطار میدهند که بعد از این مناسبات شان با بانکها قطع میشود و این چیزی است که باز هیچ کمپنی بزرگ نمی تواند خود را از بانک ها جدا دانسته باشد. بنابرین از یک طرف تمرکز معلومات است، از طرف دیگر تیت شدن معلومات است، و نکته سوم، بعد سوم آنست که معلومات غلط و معلومات غلط به صورت عمدی، معلومات تخریبی همه این امکان پذیر شده است. در حالیکه در تیلیفون و شبکه های تلگراف به این مقیاس و به این پیمانه این غیرممکن بود.

جنبش: پای کې مې پوښتنه په همدغه حساب دغه ده چې نړۍ سره ونښتله، ډېرئ کارونه آسان شول، هغه کارونه به چې ساعتونه یا حتی ورځې یې غوښتلې تاسې یې د یوه سویچ په کیکاږلو باندې په هماغه شیبه کې کولای شئ، ټکټ اخیستلی شئ، الوتکه کې «چیک این» په اصطلاح کولای شئ، بګاژ ورکولای شئ، مغازو نه شیان اخیستلی شئ، او دا چې الوتکې او دا نور سیستمونه څنګه تنظیمېږي دا ټول؛ خو عیب یې دا دی چې یو خطر هم رامنځته شوی دی چې یو نفر کولای شي دا ټوله دنیا فلج کړي یا یوه برخه یې فلج کړي لکه یوه تجربه چې په دا تېرو میاشتو کې رامنځته شوه. دغو خطرونو ته په کتو، فکر کوئ څومره د جهان دا اوسنی مخابراتي سیستم له ګواښ سره مخامخ دی؟

دکتور غني: ډېر، ډېر زښت زیان سره مخامخ دی. په اوسط کې، په امریکې کې په میاشتې کې اوسطې او لویې کمپنۍ پنځه میلیونه ډالره په میاشتې کې صدمه وینی. له شمالي کوریا نه د مثال په توګه خاص بنسټونه برابر شول چې سوني کمپنۍ یې ماته کړه، ځکه هغوی یو فلم جوړ کړی و چې د دوی په مشر باندې یې ټوکې کولې. داسې ماته یې ورکړله چې دوی له هغه نه تراوسه هم نه دي وتلي او خسارې یې لیدلي. یوه برخه غیرعمدي ده لکه چې تېرو

میاشتو کې په الوتکو باندې وشوله. بله برخه عمدي ده. د برق شبکې د مثال په توگه، ډېره برخه يې اوس په کمپيوټر باندې چلېږي، يا د الوتکو نظام يا نور او نور او دغه ټول اوس د صدمې وړ دي. اما بله برخه د دې خاصتاً استاده دا ده، چې دې ته چې عمدي تخريبي معلومات يا Disinformation وايي، د Disinformation يا د عمدي تخريبي معلوماتو خپرول امتحان شوی، چې يو غلط خبر څلور سوه ډالرو باندې برابرېدی شي، خپرېدلای شي، ورباندې تبصرې کېدای شي او بيا په انټرنېټ کې اچول کېدای شي چې ټول جهان يا ولس د خطر لاندې کړي. او خاصتاً دې برخې کې مهاجرين، اقليتونه، سياسي گوندونه، مخالفين... ټول د خطر لاندې دي، ځکه د دروغو يوه سلسله راځي او خپرېږي او خلک ورباندې باور کوي. دغه ابعاد يې بې حده خطرناک دي او له بدې مرغې نه نن –ځکه چې دولتونه يو بل سره په تضاد کې دي، د دې پر ځای چې موافقې ته ورسېږي د يو بل په مقابل کې دوی تخريبي اعمال کوي. څنگه باور کوئ چې کوم خبر روغ دی؟ او منبع يې کومه ده؟ له کومې خوا نه راغلی؟ په ټيليفونو کې، وختې چې ميليونها ټيليفونه وشي او ولس يا عسکر يا پوليس او دا باندې تزريق شي يو خبر چې ټول په دروغو باندې اخلي، د دوی روحي تاثيراتو باندې او همدارقم نورې برخې چې ورته Misinformation وايي يا غلط معلومات. اوس له بدې مرغې نه دا ټولې اجتماعي شبکې يوه فورمول باندې برابرې شوې دي. فورمول دا دی چې يو ليدونکی بايد تاسې وساتئ، ځکه هر څومره چې يو ليدونکی تاسې په کمپيوټر کې وساتئ، په هماغه اندازه باندې د هغې کمپنۍ اعلاناتو برخه ډېرېږي او دوی له اعلاناتو نه معلومدار ميلياردها ډالره گټه کوي. او دلته هغه خبرونه چې په احساساتو باندې درېدلي دي، نه په منطق باندې، دوی گوري او نن گورئ چې ميليونها ځوانان ټوله نړۍ کې کمپيوټري اعتياد باندې اخته شوي دي، يعنې دوی لکه چرسيانو غوندې شوي دي. او دغه نسل څنگه بېرته له دې مرض نه خلاصوئ؟ دا سلسله مو آلمان کې د افغان مهاجرينو په مقابل کې وليدله، ټول غلط اخبار؛ په ميانمار کې د مسلمانانو په مقابل کې؛ سريلانکا کې،

نورو ځایونو کې او بېرته د امریکې په انتخاباتو کې، اوس اروپا کې، دې ټولو کې دغه یوه مسئله شوې چې، دا زښت ډېر د خطر موضوع ده او بې حده احتیاط غواړي. له ښې مرغې نه خاصتاً لیکوالو او ځینو ژورنالیستانو په دې باندې ډېرې ښې لیکنې کړې دي چې خلک په دې پوه کړي چې د دې ابعاد څه دي، اما د دوی آواز په پرتله د دې لویو کمپنیو [ټیټ دی] او دا لویې کمپنۍ خاصتاً په امریکې کې چې حقوقي مصئونیت لري دې ته لا تیارې شوې نه دي چې خپل فورمولونه [برسېره کړي]. او فورمولونه ټول یو ریاضي فورمول دی چې دا تعیینوي، دا افراد نه دي چې دا فلتر کړي، څکه تاسې چې بي بي سي کې وئ یا دا کې خو ټول خبرونه فلتر کېدل د انسان له خوا، اوس ماشینونه دي چې دا فلتر کوي او دا نړۍ ته یوه ډېره خاصه خطرناکه مرحله راوړي.

جنبش: ډېره زیاته مننه ولسمشر محمد اشرف غني، د مخابراتو او ارتباطاتو په عمومیاتو ځینې څرګندونې وشوې، ځینې معلومات وړاندې شوو، نور یې هم کېدلای شي، خو د دې خپرونې وخت بشپړ شو، بله کې به چې هغه هم د مخابراتو په اړه ده، د افغانستان - زموږ د ګران هیواد مخابراتو تاریخ او اوسني حالت باندې تم شوو، نو تر هغو تاسې او ګران اورېدونکي په خدای سپارم. تر بیا!

دکتور غني: مننه له تاسې نه، زنده باد افغانستان، یشه سین افغانستان، تل دې وي افغانستان او زما سلامونه او احترامات ټولو وطنوالو ته.

#